لکي مروت او قبایلي سیمو کې د تحریک طالبان پاکستان بریدونه ناکامه کړي شوي
7 تنه ترهګر ووژل شوي او ګڼ نور ټپیان دي

په لکی مروت او قبایلي سیمو کې امنیتي ځواکونو د تې تې پې په رکشه کې د ځانمرګي برید کوونکي په ګډون په یو وخت درې بریدونه ناکامه کړل. په دغه توندو کاروایانو کي څلور ترهګر وژل شوي، د ترهګرو د تیښتی په وخت تعقب کي د یو مهم قوماندان په شمول دری ترهګر وژل شوي . په دغو بریدونوکې درې تنه امنیتي منسوبین شهیدان او دوه تنه نورې ټپیان شول۔

لکی مروت د ترهګرو اصلي مرکز و چې هلته د امنیتي ادارو عملیاتو په سیمه کې د ترهګرو توان په بشپړه توګه له منځه وړی او د پټیدو ځای وس نه لري۔

د عملیاتو مخالف کسان چیرته دي، انشاالله عملیات به د ترهګرو تر بشپړ له منځه وړلو پورې دوام ولري۔